مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۶** (از ۲ الی ۹ حوت ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۳

**نخستین قدم در راه دشوار صلح**

- نگرانی پاکستان ........ ۴
- نخستین تماس‌ها ........ ۵
- چرا طالبان قطر را برگزیدند؟ ........ ۵
- مخالفت پاکستان با دفتر قطر ........ ٦
- تضمین برای خروج کامل نیروهای امریکایی ........ ٦
- طالبان و پالیسی سکوت ........ ۷
- دست آوردهای پاکستان ........ ۷
- نتیجه ........ ۸

**د سولې پروسه؛ شالید او د بریا پر وړاندې خنډونه**

- د سولې لپاره د نوي حکومت هڅې ........ ۱۰
- د دواړو لورو ترمنځ اختلافي ټکي ........ ۱۱

1. په افغانستان کې د بهرنیو پوځیانو شتون او پوځي اډې ........ ۱۱

2. امارت که ټاکنې؟ ...................................................................... ۱۱
3. اساسي قانون ................................................................................ ۱۲
- د سولې پروسې د بریا مرستندوی ګامونه ........................................................ ۱۲
- د سولې مخالفین ........................................................................... ۱۳

## مقدمه

په دې وروستیو کې په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په تړاو هیلې زیاتې شوې دي. په دې اړه د ملي وحدت حکومت اجرایوي رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله هم ویلي، چې له طالبانو سره به د سولې پر سر خبرې اترې ډېر ژر پیل شي او ولسمشر اشرف غني هم د سولې په تړاو د مشورې لپاره له ګڼو سیاسي او جهادي مشرانو سره کتلي دي.

همدا راز د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حنیف اتمر هم د سولې پروسې د روانو هلو ځلو په لړ کې، قطر ته استول شوی او هلته یې د قطر له لومړي وزیر او د کورنیو چارو له وزیر سره کتلي دي.

د دې ترڅنګ په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړېدو سره تقریباً دواړو لورو لېوالتیا ښودلې، چې له یو بل سره د سولې خبرو اترو ته کېني. د پاکستان حکومت هم د سولې په خبرو کې د خپلې همکارۍ په ژمنو کې، افغان حکومت ته ډاډ ورکړی چې د مارچ په میاشت کې به دغه خبرې اترې پیل شي.

دا چې له طالبانو سره د خبرو اترو شالید څه دی؟ د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې اترې به د کومو لاملونو له کبله له خنډونو سره مخ وي؟ او د سولې د پروسې د بریالیتوب لپاره څه فرصتونه او خنډونه په مخکې پراته دي؟ هغه موضوعات دي، چې دلته یې په اړه د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د څېړنیزې څانګې د شننو تفصیل لولئ.

## نخستین قدم در راه دشوار صلح



در اواخر سال ۲۰۰۹ طالبان به این باور رسیدند که امریکا در رسیدن به اهدافی که به خاطرش به افغانستان لشکر کشیدند، ناکام شده است. به همین دلیل بود که ملا عبدالغنی برادر معاون ملامحمد عمر به رهبر طالبان پیشنهاد نمود تا در صورتی که امریکایی‌ها تقاضا نمایند، مذاکرات به منظور پایان اشغال افغانستان با آن‌ها آغاز گردد.

تا آن زمان جامعهٔ جهانی به این باور بود که طالبان برنامه‌ای جز جنگ ندارند، اما زمانیکه تمایل امریکا برای حل مشکل افغانستان از راه مذاکره ظاهر شد، رهبر طالبان هم اجازه داد تا این مذاکرات از طرف یک هیئت از طرف طالبان که در این کار تجربه داشته باشند، به پیش برده شود.

برای این کار لازم بود تا افراد مورد نظر انتخاب گردند. ملامحمد عمر دستور داد تا کمیتهٔ سیاسی امارت اسلامی که تا آن زمان فعالیت زیادی نداشت، به کمیسیون سیاسی تغییر نماید. به جای ملاآغا جان معتصم که رئیس کمیتهٔ سیاسی بود، ملاطیب آغا به حیث رئیس دفتر سیاسی مقرر گردید و در این زمان تماس‌هایی با کای آیده نمایندهٔ خاص سازمان ملل متحد در افغانستان برقرار شد.

### نگرانی پاکستان:

در ماه دسمبر ۲۰۰۹ طیب آغا در مصاحبه با روزنامهٔ عربی زبان "الحیات" چاپ لندن، برای مذاکره با امریکایی‌ها ابراز آمادگی نمود و تصریح کرد که اگر امریکایی‌ها بخواهند آن‌ها حاضر به مذاکرات رویاروی اند.

حتی قبل از نشر این مصاحبه نیز پاکستان متوجه شده بود که طالبان در صدد اند تا بدون اجازهٔ پاکستان به مذاکره با امریکا بپردازند و مبتکر این حرکت ملا عبدالغنی برادر است. در نتیجه "آی اس آی" در یک عملیات مشترک با

امریکاییها، ملابرادر را در کراچی دستگیر کرد. هدف پاکستانی‌ها از شریک ساختن امریکایی‌ها در این عملیات این بود که میان طالبان و امریکا دیواری از بی‌اعتمادی به وجود آورند تا مانع از مذاکرات مستقیم میان آنان گردند.

## نخستین تماس‌ها:

اما طالبان به کوشش‌های شان ادامه دادند. برای زمینه سازی تماس با امریکا، با وساطت نماینده‌های آلمان برند موتزلبرگ "Bernd Mützelburg" و مشل ستاینر "Michael Steiner" تماس‌های ابتدایی آغاز شد. تلاش‌های یک دیپلومات آلمانی رودیگر کونیگ "Rüdiger König" که در سال‌های (۱۹۹۷–۱۹۹۸) دیپلومات آن کشور در اسلام آباد بود و بعداً سفیر آلمان در کابل شد (طیب آغا در آن زمان در سفارت امارت اسلامی در اسلام آباد ایفای وظیفه می‌کرد از همان زمان رودیگر کونیگ "Rüdiger König" با سید طیب آغا آشنایی داشت) موجب تقویت این روند و ایجاد فضای اعتماد گردید و چند ملاقات با نمایندگان امریکا صورت گرفت. امریکایی‌ها اصرار داشتند که طالبان باید آدرسی برای مذاکرات بعدی در خارج از افغانستان داشته باشند. طالبان این خواست را پذیرفتند.

## چرا طالبان قطر را برگزیدند؟

رهبری طالبان چهار شرط ذیل را برای کشوری که باید میزبان دفتر سیاسی طالبان باشد، مشخص نمود:

۱ – کشور اسلامی باشد؛

۲ – کشور همسایه نباشد؛

۳ – به افغانستان نیروی نظامی نفرستاده باشد؛

۴ – با طالبان بعد از سال ۲۰۰۱ دشمنی نکرده باشد.

بر بنیاد این شرایط کشورهایی چون ترکیه، امارات و اردن نمی‌توانند میزبان این مذاکرات باشند و عربستان سعودی هم که تعدادی از رهبران طالبان در آنجا بعد از سال ۲۰۰۱ زندانی شدند، به دلیل این دشمنی با طالبان، نمی‌تواند میزبان مذاکرات صلح باشد. بنابراین طالبان قطر را به عنوان محل مذاکرات با امریکا پذیرفتند.

از جانب طالبان ده تن از دفتر سیاسی به عنوان یک گروه باصلاحیت به قطر معرفی شدند. شش تن در ابتدا به قطر رفتند و چهار تن کمی بعد تر فرستاده شدند. افراد دیگری نیز بعدا عضو این دفتر شدند.

## مخالفت پاکستان با دفتر قطر:

پاکستان از همان ابتداء با ایجاد دفتر طالبان در قطر مخالف بود و می‌خواست این دفتر در یکی از کشورهای دیگر مثلا عربستان سعودی، ترکیه و یا امارات متحدهٔ عربی باز شود. این مسئله موجب شد تا امریکا نیز در مورد نقش این دفتر در پروسهٔ صلح دچار تردید گردد و سیاست خود را در قبال دفتر قطر تغییر دهد در حالیکه ملا محمد عمر رهبر طالبان در پیام‌های خود به مناسبت‌های مختلف، دفتر سیاسی طالبان در قطر را یگانه آدرس برای مذاکرات صلح خوانده است.

در مذاکرات میان پاکستانی‌ها و اشرف غنی احمدزی، به نظر می‌رسد که پاکستان این شرط خود را بر جانب افغانستان تحمیل کرده است که مذاکرات باید در جای دیگری غیر از قطر صورت گیرد و به همین دلیل دولت افغانستان هم تاکید به مذاکرات در جای دیگر غیر از قطر دارد. این مسئله می‌تواند مایهٔ اختلاف در آغاز مذاکرات باشد.

## تضمین برای خروج کامل نیروهای امریکایی:

موقف طالبان اینست که از آنجایی که جانب اصلی جنگ آنان امریکا بوده است بنابراین باید مذاکرات اول با امریکا صورت گیرد تا این یقین حاصل شود که امریکا نیروهای خود را به صورت کامل از افغانستان خارج می‌سازد و خواستار پایگاه در افغانستان نیز نمی‌باشد. هرچند به نظر می‌رسد که امریکا در این مورد قبلا به جانب طالبان چراغ سبز داده که این کار در اخیر سال ۲۰۱۶ صورت خواهد گرفت، اما طالبان به دلیل بی‌باوری به امریکا، می‌خواهند یک کشور قدرتمند در وساطت شریک گردد تا ضمانتی بر تعهدات از جانب امریکا باشد. در میان اعضای دایمی شورای امنیت سازمان ملل متحد، تنها چین است که روابطی با طالبان دارد و در عین حال مورد اعتماد پاکستان نیز می‌باشد. تصادفی نیست اگر در سایت رسمی طالبان تبصرهٔ مثبت در مورد نقش چین در مذاکرات صلح به نشر رسیده است.

## طالبان و پالیسی سکوت:

رسانه‌های پاکستانی گزارش داده‌اند که رهبر طالبان اجازهٔ آغاز مذاکرات میان طالبان و دولت کابل را داده و بنابراین مذاکرات به زودی آغاز خواهد شد، اما در مورد اینکه این مذاکرات در کجا صورت خواهد گرفت، چیزی نگفته اند.

طالبان به صورت مستقیم این خبرها را رد نکرده‌اند، اما گفته اند که موقف رسمی آن‌ها را فقط سخنگویان شان منعکس می‌سازند و اخباری که غیر از این طریق به نشر می‌رسد، قابل تائید آن‌ها نیست. طالبان نگران اند که از پخش چنین اخبار قبل از آغاز مذاکرات، به عنوان یک حربهٔ تبلیغاتی علیه آنان استفاده شود.

اما نکتهٔ مثبت در اعلامیهٔ اخیر طالبان اینست که در آن، نوعی انعطاف به مشاهده می‌رسد. در این اعلامیه از پیش شرط خروج کامل نیروهای خارجی قبل از مذاکرات چیزی گفته نشده است، اما در تبصره بر سفر اشتون کارتر وزیر دفاع جدید امریکا به افغانستان، این سفر را مانعی در راه رسیدن به صلح خوانده‌اند؛ زیرا کارتر بر ضرورت تجدید نظر به حضور نیروهای امریکایی در افغانستان تاکید کرده است. طالبان معتقد اند که امریکا موقف ثابت ندارد و به همین دلیل بر وعده‌هایش نمی‌توان اعتماد کرد.

## دست آوردهای پاکستان:

اما پاکستان تاکنون توانسته از دولت افغانستان امتیازات ذیل را بدست آورد:

**۱** – دولت افغانستان در روابط خارجی خود مطابق به خواست پاکستان تغییر وارد آورد و در روابط خود با هندوستان تجدید نظر کامل نمود. این همان چیزی بود که پاکستان از سال‌ها قبل به صورت جدی خواهان آن بود.

**۲** – تعدادی از طالبان پاکستانی را به پاکستان تحویل داد و نیز ۱۵ تن از جنگجویان ایغور را به دولت چین سپرد.

**۳** – به نیروهای پاکستانی به صورت پنهانی اجازه داد تا در صورت ضرورت، برای تعقیب طالبان داخل خاک افغانستان گردند.

**٤** – افسران افغان می‌توانند در بخش نظامی در پاکستان تحصیل کنند.

**۵** – در گذشته افغانستان خط دیورند را یک خط فرضی می‌دانست، اما اکنون بر بنیاد سیاست جدید دولت افغانستان، این خطر فرضی به خندق تغییر شکل می‌دهد و مشکل دیورند خاموشانه میان دو کشور حل خواهد شد.

## نتیجه:

به نظر می‌رسد که مذاکرات میان امریکا و طالبان و سپس طالبان و دولت افغانستان آغاز خواهد شد، اما همگام با مذاکرات، جنگ نیز ادامه خواهد یافت. در این مذاکرات، طالبان در هر مورد که امتیاز بدهند، از خواست شان مبنی بر تطبیق شریعت در افغانستان دست بر نخواهند داشت. زیرا اگر آنان در این مورد کوچکترین عقب نشینی نمایند، در تمام عرصه‌ها شکست خواهند خورد.

پس می‌توان پیشبینی کرد که مذاکرات پیچیده، دشوار و زمانگیر خواهد بود و احتمال دارد که بخش بزرگ این مذاکرات میان علمای دین از دو طرف صورت گیرد. در هر صورت امید است که این تحول، قدمی مثبت به سوی پایان جنگ خونین و ویرانگری باشد که ۳۶ سال از آغاز آن می‌گذرد و حتی قدرت‌های بزرگ جهان نیز در مهار آن از راه توسل به زور عاجز ماندند.

## د سولې پروسه؛ شالید او د بریا پر وړاندې خنډونه



د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱مې له پېښې وروسته چې کومه تکراري تېروتنه د بُن په کنفرانس کې د امریکا او افغان مشرانو له خوا وشوه، کټ مټ تېروتنه د شورویانو له وتلو وروسته هم له مجاهدینو څخه شوې وه. په دغه کنفرانس کې دوه لويې ډلې، چې وروسته يې پر افغانستان د امريکايي او نړيوالو ځواکونو د يرغل پر مهال د وسله والو مخالفينو ليکې جوړې کړې، طالبان او د حزب اسلامي ډله وه. دا دوې ډلې نه يوازې دا چې د بُن کنفرانس ته ونه غوښتل شوې، بلکې دوی د راتلونکي نظام د واک په وېش کې هم بې ونډې پاتې شول.

وروسته په ۲۰۰۲-۲۰۰۳ کلونو کې هم دوی ته په نظام کې د شريکېدلو لپاره کوم وړانديز ونه شو او همدا راز خبرې اترې هم ورسره ونه وشوې. خو کله چې له ۲۰۰۵ کال څخه وروسته، طالبان په افغانستان کې د ځواکمنېدو پر لور شول، نو يو شمېر هېوادونو په هغو ولايتونو کې چې هلته د واک او امنيت ټينګښت ور سپارل شوی و، له طالبانو سره مذاکرات پيل کړل. د بېلګې په ډول په هلمند کې له طالبانو سره د انګلستان خبرې اترې او په تګاب او کاپيسا کې له طالبانو سره د فرانسويانو خبرې اترې، د طالبانو او امريکا ترمنځ له خبرو اترو څخه وړاندې پيل شوې وې. په ټيټه کچه له دغو خبرو اترو وروسته طالبانو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ځانګړي استازي کای آيډه سره هم خبرې اترې پيل کړې.[1]

[1] د طالبانو او ملګرو ملتونو ترمنځ د شوو خبرو اترو تفصيلات د کای آيډه په کتاب "په افغانستان کې د واک پر وېش کړکېچ" کې لوستلی شئ.

په ۲۰۰۸ کال چې کله په امریکا کې بارک اوباما د «بدلون» او د «جگړو ختمولو» تر شعار لاندې ولسمشرېزې ټاکنې وگټلې، له یوې خوا یې په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو شمېر زیات کړ او له بلې خوا یې په ۲۰۰۹ کال کې له طالبانو سره خبرې اترې هم پیل کړې. طالبانو دغه مهال د سولې خبرې اترې له دوو لوریو (د کابل حکومت او امریکا) سره په قطر، جرمني، اماراتو، جاپان، تاجکستان او ترکیه کې پیل کړې؛ خو په پاکستان کې د ملا برادر له نیول کېدو او د حامد کرزي له خوا د قطر په دفتر کې د "اسلامي امارت" تر نامه لاندې د بیرغ او لوحې له شتون سره د مخالفت له کبله د سولې لپاره رواني شوې خبرې په ټپه ودرېدې؛ خو وروسته د یوه امریکایي سرتیري (باو برگډال) او پنځو طالب مشرانو له تبادله کېدو سره، د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې اترې یو ځل بیا پیل شوې.

## د سولې لپاره د نوي حکومت هڅې:

د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرېزو ټاکنو پرمهال، دواړو مخکښو کاندیدانو اشرف غني او ډاکټر عبدالله د سولې د ټینگښت په تړاو له ولس سره ژمنې وکړې. اشرف غني په لومړي گام کې له گاونډیو او د سیمې له هېوادونو او بیا نړیوالو سره خبرې اترې پیل کړې؛ د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردوغان سره یې په کابل کې خبرې وکړې او سعودي، چین او پاکستان ته یې سفرونه وکړل او دا هڅې د دې ښکارندویې وې، چې د سولې پروسه د اشرف غني د بهرني سیاست مهمه برخه جوړوي.

کله چې په پاکستان کې پر یوه پوځي ښوونځي برید وشو، نو دغې پیښې د پاکستان پر پالیسیو اغېز وکړ او د پاکستاني طالبانو په تړاو د پاکستاني نظامیانو او سیاسیونو نظر «یو» شو. د دغه هېواد لومړي وزیر نواز شریف تقریباً له ټولو سیاسي گوندونو او نظامي او استخباراتي مشرانو سره په هوکړې، د افراطیت په تړاو د پاکستان تگلاره په ۲۱ ټکو کې بیان کړه او پاکستان یې نور نو د افراطیت په تړاو بدل شوی وباله.

وروسته پاکستاني چارواکو هم څو ځله کابل ته سفرونه وکړل، چې د راحیل شریف له درېیم ځل راتگ وروسته، چې په مارچ میاشت کې یې د مذاکراتو لپاره د طالبانو د چمتو کولو ژمنه وکړه، اشرف غني هم په افغانستان کې د سولې په اړه د هېواد له مدني ټولنو، مذهبي او جهادي مشرانو او سیاسیونو سره هر اړخیزې کتنې پیل کړې او له ډېرو څخه یې په دې اړه لیکلې مشورې او ستراتیژۍ هم غوښتې دي.

دا چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ به د سولې خبرې چېرته پیل کېږي او د دواړو لوریو له خوا به پکې څوک ونډه اخلي، د ډېرې پاملرنې وړ دي. طالبان به شاید د خپلې تجربې او دریځ په اساس د خبرو اترو لپاره د قطر پر هېواد ټینګار وکړي. خو افغان حکومت تر اوسه لا داسې ځای نه دی غوره کړی، چې د دوی له نظره پکې د سولې خبرې اترې پیل شي. په دې اړه اشرف غني له ډېرو څخه مشورې غوښتې دي او وروستۍ پریکړه به هم له ده سره وي.

په ټولیز ډول د ځای خبره هم ډېره اساسي نه ده او په کار نه ده، چې یوازې د ځای پر سر دغه خبرې اترې وځنډول شي؛ بلکې دلته اساسي خبره د خبرو اترو د اجنډا ده، ځکه همدا د بحث اجنډا ده، چې راتلونکی افغانستان باثباته کولی شي او شاید همدغه اجنډا بیا دواړه لوري له بندو دروازو سره هم مخ کړي.

## د دواړو لورو ترمنځ اختلافي ټکي:

د روغې جوړې له خبرو اترو وړاندې لازمه ده، چې دواړه لوري د لاندې موضوعاتو لپاره جامع ځوابونه ولري، څو دغه مذاکرات یو ځل بیا له بندې دروازې سره مخ نه شي:

### 1. په افغانستان کې د بهرنیو پوځیانو شتون او پوځي اډې:

طالبانو ته به د امریکایانو شتون څومره د زغملو وړ وي؟ آیا حکومت به د طالبانو او د سولې په خاطر دې ته چمتو شي، چې له ۲۰۱٦ کال وروسته امریکا ته د بېرته تګ شین څراغ ورکړي؟ ځکه طالبانو تر اوسه هم خپله ډېره مبارزه د همدغه ټکي په موخه روانه ساتلې او د امریکایانو په وتلو سره به له دوی سره د جګړې لپاره کوم بل دلیل هم پاتې نه شي! نو له همدې امله اړینه ده، چې دواړه لوري پر یوه داسې څه توافق وکړي، چې دواړو لوریو ته د منلو وړ وي. دا توافق به په لومړي ګام کې له افغانستانه د امریکایانو تدریجي وتل وي. ځکه که طالبان وغواړي هم، چې بهرني ځواکونه به له افغانستانه ووځي، نو لږترلږه یو کال وخت به نیسي.

### 2. امارت که ټاکنې؟

دویمه مهمه موضوع دا ده، چې آیا طالبان به بېرته خپل امارت وغواړي او که به دې ته چمتو شي، چې د ټاکنو له لارې په نظام کې ونډه واخلي؟ که طالبان امارت غواړي، نو لږترلږه دا قضیه به یوې لویې

جرګې او یا رفرانډم ته وړاندې کېږي، څو معلومه شي چې د هېواد ډېرى اکثریت څه ډول نظام غواړي؟ او دا چې طالبان له ټاکنو او جمهوریت سره همغږي نه دي، په دې اړه په کار ده، چې د حکومت او د طالبانو ترمنځ دغه ستونزه د دواړو لوریو د معتمدو علماوو د یوه کمیسیون له لارې حل شي.

### 3. اساسي قانون:

بله قضیه چې نه یوازې طالبان بلکې حزب اسلامي (حکمتیار) هم په دې اړه نیوکې لري، د اساسي قانون د تعدیل موضوع ده. دا د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ تر ټولو مهمه اختلافي موضوع ده؛ په دې اړه په کابل کې یو شمېر جګپوړي چارواکي وایي، چې اساسي قانون باید سره کرښه وي او له طالبانو سره د اساسي قانون له دایرې بهر چلند ونه شي؛ خو د ملي وحدت حکومت له جوړېدو او د اجرائیه پوست په رامنځته کولو سره هم اساسي قانون تر پښو لاندې شو او اشرف غني د اساسي قانون خلاف یو پوست رامنځته کړ. نو کله چې دا ډول پوست، چې په اساسي قانون کې ځای نه لري، رامنځته کولی شي، بیا ولې د افغانستان د ملي ګټو او سولې د ټینګښت لپاره په اساسي قانون کې تعدیل نه شي راوستلی؟

## د سولې پروسې د بریا مرستندوی ګامونه:

د سولې پروسې د بریا لپاره اړینه ده، چې لړترلړه لاندې نکات په پام کې ونیول شي:

- حکومت باید د علماو یو داسې ګروپ جوړ کړي، چې له لارې یې د سولې مخالفین قانع او چوپ کړای شي.
- حکومت باید طالبانو ته د پاکستان د لاس آلې په سترګه ونه ګوري، بلکې د یوه افغان لوري په توګه مذاکرات ورسره پیل کړي.
- حکومت باید په مطبوعاتو کې د سولې پروسه د ملي ګټو په توګه راپورته کړي.
- طالبان او حکومت دواړه باید ښځینه فعالینې، چې له وسله والو مخالفینو سره د سولې مخالفت کوي، د دلایلو له لارې قانع کړي. که هغوی قناعت نه کوي، نو د سولې پروسې ته د زیان رسېدو د مخنیوي لپاره، باید د ښځینه فعالینو یو ګروپ جوړ او له دې لارې د تخریبي کړیو د فعالیت مخه پرې ونیول شي.

- افغان حکومت او نړیوالې ټولنې باید د سولې د پروسې په وروستي پړاو کې د هغو افغان کډوالو د بیا راتګ او دلته د استوګنې د زمینې برابرولو لپاره کار وکړي، چې په پاکستان کې مېشت دي.
- حکومت باید د سولې د خبرو اترو لپاره داسې کسان وټاکي، چې له طالبانو سره د دښمنۍ سابقه ونه لري او د رښتینو دریمګړو په سترګه ورته وکتل شي.

## د سولې مخالفین:

په سیمه کې ځینې داسې اغېزناک هېوادونه هم شته، چې د سولې پروسه او له پاکستان سره نېږدې کېدونکې اړیکې په افغانستان کې د خپلو پانګونو، امنیت او ګټو لپاره ګواښ بولي او اوس هم په افغانستان کې دننه له بېلابېلو نومونو لاندې او د ځینې کړیو او افرادو له لارې د سولې پیل شوې خبرې تخریبوي. دا چې د سولې پروسه د دغو هېوادونو له خوا تخریب نه شي، حکومت باید د سولې په پروسه کې دغو هېوادونو سره هم په تفاهم او اړیکه کې واوسي او دا ورته روښانه کړي، چې د دې پروسې له بریا سره به نه یوازې دا چې د هغوی امنیت ته ګواښ پېښ نه شي، بلکې د دوی مشروع ګټې به لا ډېرې خوندي شي.

د افغانستان ګاونډیان او د سیمې هېوادونه باید په دې قانع کړل شي، چې په افغانستان کې د سولې له ټینګښت سره به، نه یوازې دا چې د افغانستان د ګاونډیو او د سیمې د هېوادونو ثبات او استقرار خوندي شي، بلکې ښایي چې د سیمې په اقتصادي پرمختګ کې به هم ستر رول ولوبوي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)